پـه کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو
او حفظ الصحې پروګرام

# د (۲۰۱۹) کال پـه جـولای کـې د اوبـو، حفظ‌الصحې او پاکـوالي یا (واش) (۲۴) پروژې بشـپړې شـوې



د روان (۲۰۱۹) کال پـه جـولای میاشـت کـې د کلیـو د بیارغونـې او پرمختیـا وزارت پـه کلیـوالي سـیمو کـې د اوبـو رسـولو او حفظ‌الحصـې د پروګـرام لخـوا پـه بدخشـان، بادغیـس، دایکنـډي، غـور، هـرات، جوزجـان، خوسـت، کنـړ، ننګرهـار، پنجشـیر، پـروان او وردګـو ولایتونـو کـې د څښـلو د اوبـو (۲۴) پـروژې بشـپړې او د خلکـو ګټـې اخیسـتنې تـه وسـپارل شـوې.

## یادې بشپړې شوې (۲۸) پروژې عبارت دي له:

د پروان ولایت په سالنگ ولسوالۍ، د پنجشېر ولایت په حصهٔ اول ولسوالۍ، د خوست په ځاځي میدان ولسوالۍ، د دایکنډي ولایت په شهرستان ولسوالۍ او د ننگرهار ولایت په خوگیاڼیو ولسوالۍ کې د پنځو لمریزو شبکو جوړول.





د غور ولایت د مرکز فیرزوکوه اړوند تغه تیمور کلي کې د څمکې د کشش د قوې په وسیله د چلېدونکې یوې شبکې جوړول؛ د جوزجان ولایت په مینگجیک ولسوالۍ کې د دوو ذخیرو جوړول او د وردگو ولایت په بهسودو ولسوالۍ کې د دریو څاه گانو برمه کول.




د هرات ولایت په انجیل ولسوالۍ، د کنړ ولایت په مره وره او وټه‌پوره ولسوالیو، د خوست ولایت په مرکز متون کې او د بدخشان ولایت په کیشم ولسوالۍ کې د پنځو ژورو څاه ګانو جوړول.




د بادغیس ولایت په مرکز قلعه‌ی نو او د دایکنډي ولایت په کیتي ولسوالۍ کې د (۴۱) نیمه ژورو څاه ګانو جوړول او د جوزجان ولایت د خانقا او مینګجیک ولسوالیو په بېلا بېلو کلیو کې د پنځو نیمه ژورو څاه ګانو، چې قطرونه لوی دي، جوړول شامل وو.





# د دغې پروژې ټول ټال لګښت




له دغو پروژو نه څه باندې (٢٦،٠٠٠) کسان ګټه اخلي.

## د حفظ‌الصحي او پاکوالي د تعلیماتو څانګې فعالیتونه

د حفظ‌الصحې او پاکوالي د تعلیماتو څانګې په دغه میاشت کې په هلمند، پکتیکا او بدخشان ولایتونو کې (۶۳) کلي په خلاصه فضا کې له رفع‌حاجت او چټلیو نه پاک تصدیق او (۵۴) نور یې پاک تایید کړي دي. په دغو کلیو کې دغه راز د ټولنې په مشرۍ د کاملې حفظ‌الصحې یا (سي‌اِل‌ټي‌اِس) د تطبیق په پایله کې (۵۱۲) مبرزونه جوړ شوي دي.

